# کابل ته د پاکستان لومړي وزیر سفر؛ موخې او پایلې

## د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز - کابل

**تحلیل** CSRS | **شماره:** ۳۶۰

۱۱ قوس ۱۳۹۹ هـ ش /01 December 2020


ویبسایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.af

لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت انکشاف مطالب این نشریه به این آدرس ها با ما شریک سازید:

ایمیل: csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com


---


لومړی تحلیل

دویم تحلیل

# کابل ته د پاکستان لومړي وزیر سفر؛ موخې او پایلې



د ولسمشر محمد اشرف غني په رسمي بلنه د پاکستان لومړي وزیر عمران خان د روانې نومبر میاشتې په 19 نېټه چې د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي، افغانستان لپاره د پاکستان ځانګړی استازی صادق خان او د څارګرې ادارې (ای ایس ای) مشر فیض حامد په ګډون لوړپوړي پلاوي مشري یې کوله کابل ته یو ورځنی سفر ترسره کړ. په داسې حال کې چې د هېواد په کچه تاوتریخوالي زور اخیستی او په دوحه کې د خپلمنځي خبرو اترو کړنلارې په اړه لا هم کوم رسمي پرمختګ نه لیدل کېږي د ښاغلي عمران خان دغه سفر به د افغان سولې او دوه اړخیزو اړیکو په برخه کې څه اغېزې ولري د CSRS په دې دوه اوونیز تحلیل کې مو پر یادې موضوع شننه کړې ده.

## کابل ته د عمران خان د سفر موخې

په داسې حال کې چې د هېواد په کچه مرګ ژوبلې لاپسې زور اخیستی او هره ورځ د سړک غاړې ماینونو او چاودنو له کبله په لسګونه عام افغانان خپل ژوند له لاسه ورکوي. مګر بلخوا په دوحه کې د خپلمنځي خبرو اترو کړنلارې په اړه لا هم د دواړو پلاوو ترمنځ ناندرۍ روانې دي. په دغسې یو نازک حالت کې د ولسمشر محمد اشرف غني په رسمي بلنه د پاکستان لومړي وزیر عمران خان کابل ته یو ورځنی سفر ترسره کړ. د ښاغلي عمران خان د سفر وړاندې د نومبر پر 16 نېټه د سوداګرۍ او پانګونې په برخه کې د نوموړي سلاکار عبدالرزاق داوود کابل ته درې ورځنی سفر ترسره کړ او افغان لوري سره یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ په برخه کې پر اسانتیاوو راوستلو او اقتصادي کمیسون جوړولو خبرې وکړې.
د ښاغلي خان د سفر اجنډا ته په کتو چې افغان سوله او د دواړو هېوادونو ترمنځ سیاسي، امنیتي، اقتصادي او سوداګریزو برخو کې د اړیکو پراختیا وه، پاکستان هېواد لپاره دغه سفر په دې توګه اړین

Center for Strategic and Regional Studies (Kabul)

وو، چې دغه هیواد د سختو اقتصادي ستونزو سره مخ دی او په دې توګه هڅه کوي چې خپل صادرات افغانستان ته ډېر کړي. د دې ترڅنګ پاکستان په افغانستان کې د هند نفوذ زیاتوالي څخه وېره لري. په همدې توګه لومړي وزیر عمران خان د جرمني شپیګل مجلې سره په یوې ځانګړې مرکه کې هم ویلي وو چې له ښاغلي حکمتیار او د ملي پخلاینې مشر ډاکتر عبدالله عبدالله سره لیدنو کې یې دا په ډاګه کړې وه چې په افغانستان کې د پاکستان یوازینۍ ګټه دا ده چې هند ته اجازه ورنه کړي چې له افغان خاورې څخه د پاکستان پر خلاف عملیات وکړي.

پاکستاني لوري دا هڅه هم وکړه ترڅو په دې برخه کې د افغان چارواکو څخه لیکلې ژمنه واخلي. او دا ژمنه یې د (افغانستان او پاکستان او ټوله سیمه کې د سولې او ټیکاو د ملاتړ لپاره د ګډ لیدلوري) سند لاسلیکولو په برخه کې له افغان چارواکو څخه واخیسته.1 داسې چې افغانستان باید د نورو هېوادونو سره د اړیکو لرلو په برخه کې د پاکستان او افغانستان لپاره یو رېښتینی فرصت برابر کړي چې ګټه یې دواړو هېوادونو ته ورسیږي او له دې پرته له نورو هېوادونو سره دا اړیکې باید هیڅ ډول ګواښ و نه اوسي. خو بلخوا د ښاغلي عمران خان د سفر وروسته په تورخم ښارګوټي کې پاکستاني لوري د پولې ترڅنګ د نویو تاسیساتو جوړولو هڅې پیلولو سره د افغان پوله ساتو ځواکونو له مقاومت سره مخ شول. او په پایله کې د پاکستاني لوري لخوا د تېر په څېر د یوې اړخیزې پرېکړې پر بنسټ د تورخم پوله د عامو خلکو او سوداګریزو توکو لېږد په موخه وتړل شوه. دا کار بیا د دواړو هېوادونو اړیکې د پخوا په څېر تتولی شي او د دې ترڅنګ د دواړو هېوادونو سوداګرو ته په لویه کچه زیان رسولی شي.

## افغان سوله د اجنډاء محوري نقطه

افغان حکومت چې په دوحه کې د طالب لوري سره د خپلمنځي خبرو اترو کړنلارې په جوړولو بوخت دی، بلخوا د افغانستان په داخل کې د مرګ ژوبلې زیاتېدو او د اوربند نه پلي کېدو سخت اندېښمن کړی دی. تر دې چې یو شمېر داسې چاودنې هم ترسره کېږي چې پړه یې طالبان نه بلکې داعش وسله واله ډله پر غاړه اخلي، چې د سولې په دغسې حساس پړاو کې دا ډول چاودنې د سولې تاریخي فرصت ته سخته صدمه رسولی شي. افغان حکومت د خپلمنځي خبرو له پیل راهیسې ټینګار درلود چې سرتاسري اوربند دې پلي شي ولې طالب لوری بیا دې کار ته غاړه نه ږدي او تر دې دمه دواړو خواوو د تاوتریخوالي زیاتوالي ته دوام ورکړی، چې د پخوا په نسبت یې تلفات د بهرنیانو پر پرتله یوازې افغانانو ته اوړي او د داوړو خواوو څخه هره ورځ په لسګونه تنه وژل کېږي. د تاوتریخوالي زیاتوالي افغان حکومت ته فرصت په لاس ورکړی ترڅو د سیمې او نړۍ هېوادونو پاملرنه دې ته راوګرځوي

[1] https://www.dawn.com/news/1591240/pakistan-will-do-everything-possible-to-reduce-violence-in-afghanistan-says-pm-imran-on-maiden-kabul-visit

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS) Kabul

ترڅو پر طالبانو فشار وارد کړي چې ډزبندۍ ته غاړه کېږدي. په همدې لړ کې ولسمشر غني څه موده وړاندې لومړي وزیر عمران خان سره د تیلفوني خبرو اترو له لارې د تاوتریخوالي پر زیاتوالي خپله اندېښنه شریکه کړې وه، ترڅو پاکستان وکولی شي هغه اغېز چې پر طالب لوري یې لري د هغې نه په ګټې اخیستنې یاده ډله دې ته چمتو کړي چې د تاوتریخوالي کچه راښکته کړي.
په همدې توګه کابل ته ښاغلي عمران د خپل سفر په لړ کې له افغان لوري په ډاګه وغوښتل ترڅو پاکستان ته د سولې په برخه کې هغه ستونزې ور په ګوته کړي که پاکستان یې په لرې کولو کی مرسته وکوي. نوموړي ټینګار درلود چې هېواد به یې د پخوا په نسبت دا ځل ډېره هڅه وکوي ترڅو په افغان سوله کې نوره مرسته هم ترسره کړي. که څه هم دغه ډول څرګندونې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکو جوړولو کې مثبت رول اداء کولی شي، خو ښایي سربېره پر دې څرګندونو بیا هم طالب لوری اوربند ته غاړه کېنږدي. دا ځکه چې پاکستان ته په 2014 کال کې د ولسمشر محمد اشرف غني لومړني سفر پر وخت پاکستان له نوموړي سره د افغان سولې په برخه کې له حده زیاتې ژمنې کړې وې، مګر ولیدل شول چې طالبانو د افغان حکومت پر وړاندې خپلو بریدونو ته دوام ورکړ او د څو کلونو په تېرېدو بیا هم د سولې په برخه کې کوم څرګند پرمختګ تر سترګو نه شو. بلخوا د افغان سولې په برخه کې د مرستې په اړه د لومړي وزیر عمران خان او سنیو څرګندونو وروسته هم ولیدل شول چې د تاوتریخوالي کچه نوره هم مخ پر زیاتېدو شوه. د نوموړي د سفر دوه ورځې وروسته د کابل ښار په مختلفو عامو سیمو په لسګونه راکټي بریدونه وشول او لسګونه تنه شهیدان شول چې ټول قربانیان یې عام وګړي وو. بلخوا د قوس په 4 (نومبر 24) نېټه بامیان ولایت کې 17 عام ملکي وګړي د یوې چاودنې په ترڅ کې شهیدان کړای شول.

## د سفر احتمالي پایلې

له افغان سولې پرته د ښاغلي عمران خان دې سفر د دواړو هېوادونو ترمنځ د نوي دوه اړخیز سند لاسلیکولو سره وکولی شول ترڅو د راتلونکې لپاره د دواړو هېوادونو اړیکو پراختیا ته زمینه برابره کړي. د یاد سند په یوه برخه کې راغلي چې دواړه لوري به د اړیکو دوام لپاره یو بل هېوادونو ته تګ راتګ ته دوام ورکوي. پر همدې بنسټ ښاغلي عمران خان ولسمشر محمد اشرف غني ته پاکستان ته د ورتګ بلنه ورکړه چې د راتلونکې کال لومړۍ ربعه کې به ترسره شي چې د دواړو هېوادونو اړیکو رغولو کې یو ښه پرمختګ ګڼل کېدای شي.
د استخباراتي ادارو ترمنځ همغږي او د سولې د ښمنانو او هغه کسان چې د سولې هڅې ټتوي د هغوی په اړه د معلوماتو شریکولو په برخه کې به له یو بل سره همکاري کوي. همدارنګه د راتلونکي کال جنورۍ میاشتې په لومړۍ نېټه به د دواړو هېوادونو ترمنځ د افغان کډوالو ستنولو او همدارنګه د

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS) Kabul

سیمه ییز اتصال په برخه کې چې ګټه يې د واړو هېوادونو ته ورسیږي په اړه به ناستې ترسره کېږي. که څه هم د سیمه ییزو اتصال په اړه د افغان سولې په اړه د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په ډاګه کړې چې امریکا به په نږدې راتلونکې کې په سویلي او منځنۍ آسیا کې د پانګونې هڅونې په موخه د پاکستان، افغانستان او ازبکستان هېوادونو لپاره يو ځانګړی فنډ (بودیجه) په لاره واچوي.[2] دا کار په افغانستان کې د سولې نه شتون پر وخت ناشونی برېښي مګر بلخوا کولی شي افغان سولې ته هم لاره هواره کړي چې د سیمه ییز پر مختګ لپاره اغېزناک ثابتېدلی شي. د پاکستان او افغانستان ترمنځ د اړیکو پراخول نه یوازې تر یوې کچې افغان سوله کې مرسته کولی شي بلکې د دواړو هېوادونو او په ټوله کې د سیمې اقتصادي پرمختګ لپاره هم ګټور ثابتېدلی شي او د بل هر وخت په نسبت پاکستان اړ دی ترڅو د خپلو اقتصادي ستونزو راکمولو لپاره په دې برخه کې ډېره مرسته وکړي او اړین ګامونه پورته کړي.

**تحلیل دوم**

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

[2] https://www.dawn.com/news/1591523/us-to-launch-regional-funds-for-pakistan-afghanistan-and-uzbekistan

# روز جهانی معلولین و وضعیت اشخاص دارای معلولیت در افغانستان



روز جهانی معلولین (۳ دسامبر مطابق ۱۲ قوس) یک روز بین المللی است که از سال ۱۹۹۲ میلادی توسط سازمان ملل در سراسر جهان تجلیل میشود. هدف از تجلیل این روز حمایت از قوانین مربوط به اشخاص دارای معلولیت و رفاه معلولین میباشد. همچنان با تجلیل از این روز سازمان ملل متحد در صدد نمایش دستاورد ها و داخل نمودن معلولین در عرصهٔ سیاسی، اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی جامعه میباشد. هر سال سازمان بین الملل موضوعی را منحیث شعار به روز جهانی معلولین اعلام میدارد، و تحت آن کشور های جهان الی سال آینده فعالیت های شان را در راستای توانمند سازی معلولان انجام میدهند. شعار سال جاری «ارتقاء مشارکت افراد معلول و برابری» تعین گردیده که با الهام از برنامه توسعه پایدار 2015-2030 سازمان ملل متحد، از جانب این سازمان تعیین شده است.۳

## وضعیت معلولین در افغانستان

معلول و یا کم توان به کسی گفته میشود که به علت نقص جسمی یا ذهنی (قبل از تولد و یا بعد از آن) اختلال مستمر و قابل توجهی در سلامت و کارآمدی عمومی وی ایجاد شده و تا حدی یا به شکل کلی از تامین ضرورت

[3] https://www.imna.ir/news/399266

Center for Strategic and Regional Studies (Kabul)

های زندگی عادی فردی یا اجتماعی ناتوان است، حسب تعریف فوق، در جهان امروز حدود پنج صد میلیون تن از این مشکل رنج میبرند.۴

کمیته بین المللی صلیب سرخ در افغانستان در ۳ دلو سال ۱۳۹۷ ه ش اعلان کرد که بیشتر از یک میلیون نفر در این کشور از معلولیت رنج میبرند و سالانه ده هزار معلول جدید در این اداره ثبت میشود. در خبرنامه سازمان ملل متحد آمده که ازین جمله ده درصد کسانی هستند که از جراحت های مرتبط به جنگ رنج میبرند و ۹۰ درصد دیگر معلولیت های مادرزاد و یا هم معلولیت ناشی از بیماری ها و حادثات می باشند. در سال های اخیر به علت افزایش جنگ ها، رقم معلولیت ناشی از جراحت های جنگی افزایش قابل ملاحظه ای را نشان میدهد. قسمی که در سال ۱۳۹۸ ه ش داکتر فیروز الدین فیروز وزیر سابق صحت عامه کشور اعلام کرد که طی یک سال گذشته به شمار معلولان افغانستان افزوده شده و ۳ تا ۵ فیصد جمعیت افغانستان از معلولیت رنج می برند، وی بیان کرد که عوامل معلولیت: جنگ، امراض، حادثه یا تصادفات و آفات ولادی یا تشویش و فعالیت بیش از حد مادران در جریان بارداری می باشد۵. معلولیت روی افراد و خانواده های شان تاثیرات اجتماعی، اقتصادی و تاثیرات روانی دارد. برای از بین بردن و کاهش این تاثیرات در کشور نهاد های مختلف در کنار دولت فعالیت های انجام میدهد از این میان صلیب سرخ از جمله بزرگترین سازمان های جهانی ایست که در کنار تعدادی از کشور ها در افغانستان برنامه هایی را برای بالا بردن سطح زندگی معلولین عملی می نماید. این سازمان در ولایت های مختلف سالانه برای بیش از صد هزار تن که به اعضای مصنوعی نیاز دارند خدمات ارایه میدارد. کمیسون مستقل حقوق بشر افغانستان و کمیسون اصلاحات اداری برای ایجاد تسهیلات در استخدام معلولان، طرزالعمل استخدام را در نظر گرفته اند و به اساس قانون حقوق و امتیازات معلولان در افغانستان، دست کم ۳ درصد کارمندان ادارت دولتی کشور باید معلولان باشند۶ اما متأسفانه درعمل چنین نیست و اکثر ادارات با توظیف کارمندان معلول؛ روی خوش

[4] https://www.imna.ir/news/399266/%DB%B1%B2-%D8%A2%B0%D8%B1-%D8%B1

[5] https://www.google.com/amp/s/www.bbc.com/Persian/Afghanistan-46973600/amp

[6] https://www.google.com/amp/s/www.bbc.com/Persian/Afghanistan-50622937/amp

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

نشان نمی دهند. طبق قانون افغانستان هر گونه تبعیض میان شهروندان کشور ممنوع می باشد، اما متأسفانه این تبعیض در قسمت اشخاص دارای معلولیت؛ به شکل خود آگاه یا نا خود آگاه در اکثر دوائر خصوصی و دولتی وجود دارد. یکی از مشکلات اساسی معلولین، نبود زمینه تعلیمی و تحصیلی برای معلولان میباشد و با تأسف در این زمینه نیز کوتاهی های فراوان وجود دارد که به نوبهء خود باعث می گردد از فرصت های کاری بهتر، محروم بمانند و درین میدان با دیگران رقابت نتوانند.

## چالش های معلولین در کشور

اشخاص دارای معلولیت در کشور ما با مشکلات متعدد مواجه هستند از جمله:

- مشکلات نقل و حرکت: یکی از مشکلات اساسی معلولین مشکل حمل نقل و جابه جایی در درون و بیرون شهرها است. چنانچه ترانسپورت های عمومی با اشخاص دارای معلولیت همکاری لازم نمی نمایند و ترانسپورت خصوصی ( تاکسی) هزینهء بالا نیاز دارد که از توان آنها بیرون می باشد.
- مشکلات کار یابی: طبق قانون حقوق و امتیازات معلولین در افغانستان، در ادارات ۳ درصد کارمندان باید از جمله معلولان باشد، اما بنابر دلایل مختلف چون تبعیض، فساد اداری و پایین بودن سطح آگاهی جامعه، این قانون تا حال به شکل درست به اجرا نیا آمده است.
- برخورد افراد جامعه: به دلیل فرهنگ پایین مردم در تعامل با اشخاص دارای معلولیت، مردم برخی از معلولین سعی می کنند کمتر در جامعه حضور پیدا کنند. عدم توجه دولت و مردم به آنها سبب میگردد تا اعتماد نسبت به خود شان ضعیف گردیده و استعداد های شان از رشد به دور باقی بماند.
- مشکل دیگر قشر معلول در جامعهء ما تگدی و سوال گری است. تعدادی از معلولان بنا بر مجبوریت و خواست خود شان و تعدادی هم به تشویق و سازمان دهی دسته های مافیایی؛ دست به این کار می زنند.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

اما در مجموع  این پدیده باعث گردیده تا موقف اشخاص دارای معلولیت در جامعهء ما پائین آمده و به عنوان قشری دست نگر و مفت خوار معرفی شوند.

- در کنار تمام این ها معلولین با مشکلات اقتصادی و مالی ناشی از عدم داشتن مدرک عایداتی مناسب و دوامدار مقابل میباشند. از تحصیل و تعلیم معیاری به علت قلت موارد مالی  محروم می شوند و از امکانات ظرفیت سازی و انکشاف شخصیتی، اکثرا محروم باقی می مانند. وزارت شهداء ومعلولین با تقدیم مدد معاش مستمر تاحدی در خدمت تعدادی از معلولین قرار دارد. اما متأسفانه این مدد معاش فقط به آنانی داده می شود که در اثر جنگ معلول شده اند و معلولین مادر زاد و آنانیرا در بر نمی گیرد که درحوادث عادی معلول گردیده اند.
- عدم دسترسی معلولین به مراکز تحصیلی و محرومیت شان از بورس های تحصیلی خارجی، مشکل دیگری است که فراروی این قشر قرار دارد. ماده ۴۳ قانون اساسی تحصیل تا سطح لیسانس را حق هر شهروند افغانستان دانسته است و ماده ۱۹ قانون حقوق و امتیازات افراد دارای معلولیت، حضور معلولین در بورسیه های دولتی ۷ درصد و در موسسات تعلیمی و تحصیلی خصوصی نیز ۷ درصد پیش بینی کرده است، اما در حال حاضر بنابر بهانه تراشی ها و عوامل دیگر، از هردو فرصت کمترین استفاده را می نمایند.[7]
- و اخیرا اینکه دختران و زنان دارایی معلولیت مشکلات مضاعف دارند، یکی معلول بودن و دیگر زن بودن درکنار مشکلاتی که همه شاهد هستیم، آنها بیشتر با مشکلات دست و پنجه نرم میکنند.

## راه حل های پیشنهادی

بخاطر اینکه وضعیت معلولان در کشور بهبود یافته و مشکلات شان کمتر گردد، به کار طولانی و همکاری دوامدار حکومت و ملت ضرورت است. اما بخاطر کامیابی، این پروسهء طولانی، نکات ذیل حیثیت بنیادی دارد:

1. **فرهنگ سازی:**

[7] http://www.dailyafghanistan.com/national-detail.php?post-id=141544

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

هر چی سطح فرهنگی و آگاهی مردم بالا برود و فرهنگ سازی صورت بگیرد معلولین در جامعه میتوانند بهتر با مشکلات کنار بیایند. رسانه های کشور باید از طریق پیام های همیشه گی و برنامه های خاص، در بالا بردن سطح فرهنگی جامعه و بهتر ساختن تعامل با افراد دارای معلولیت، نقش کلیدی بازی نمایند. چنانچه مکاتب، مدارس، منابر و خطبای کرام ما هم می توانند نقش سازنده ای درین راستا انجام دهند.

2. **حمایت دولتی:**

دولت افغانستان باید در مدد معاش ماهانهء معلولان ازدیاد به عمل آورده به اساس یک پلان طویل المدت، تمام معلولان حوادث جنگی و غیر جنگی را زیر پوشش خود قرار دهد. با توزیع عادلانه کارت های تخفیف برای معلولان، برای آنها در زمینه حمل و نقل، تعلیم و تحصیل وحتی خرید مایحتاج زندگی، سهولت ایجاد نماید. استحقاق قانونی معلولان در وظائف دولتی و بورس های تحصیلی باید برای شان تضمین شود.

3. **رشد استعداد ها:**

فعالیت های مختلفی که از جانب معلولان صورت میگیرد مورد توجه قرار گیرد و فرصت برایشان ایجاد گردد و استعدادهای آنها باید انکشاف یابد. برای رشد استعداد های معلولان در عرصه های گوناگون، دوره های مختلف آموزشی و تعلیمی دایر گردد. رسانه های تصویری باید در برنامه های شان، زبان اشاره و مترجم ناشنوایان را عملی نمایند. همچنان، بخاطر تربیت بدنی معلولان، باشگاه های ورزشی ویژه و رایگان ایجاد گردد.

4. **ایجاد فضای صلح آمیز:**

جنگ تمام افراد جامعهء مارا متضرر ساخته است؛ اما قشر معلول جامعه بیشتر از دیگران جنگ متضرر گردیده اند. در اثر دوام جنگ و نا امنی، نه تنها تعداد معلولان کشور بیشتر می شود، بلکه اقدامات لازم در قسمت حمایت از حقوق اشخاص دارای معلولیت نیز صورت گرفته نمی تواند. تا وقتیکه جنگ بیشترین سرمایه های مارا به کام خود فرو برد، نباید توقع کرد که کار زیادی بخاطر بهبود زندگی معلولان کشور

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

صورت گرفته بتواند. به همین خاطر، قطع جنگ و تحقق صلح و آشتی ملی؛ پیش زمینهء هر نوع ترقی و انکشاف و زمینه ساز خوشبختی و رفاهیت قشر معلول در جامعهء ما می باشد.

---

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز يو غير انتفاعي، غير حکومتي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې تأسيس شوی دی. مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو او رغنده خبرو له لارې په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو ارزولو او د هغو د پراختيا لپاره فعاليت کوي. د مرکز يوه موخه دا هم ده چې د نويو څېړنو او پاليسيو ترمينځ داسې ارتباط قايم شي چې په پايله کې د هېواد په کچه تولې پاليسۍ په مطالعې ولاړې او اکاډيميکو اصولو برابرې شي.

www.csrskabul.com

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)